**د افغانستان اسلامي امارت**

**د ریاست الوزرا لوړ مقام**

**د دفتر عمومی ریاست**

**د عامه او ستراتیژیکو اړیکو معاونیت**

**د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز**

# د کلني راپور فارمټ - فارمت راپور سالانه

| | |
|---|---|
| **د اداري بشپړ نوم (پښتو او دري)** | **د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت/ وزارت مهاجرین و عودت کنندگان/** |
| **نیټه: تاریخ:** | ۱۴۴۶/۲/۷ |
| **د لاسته راوړنو خلاصه (لنډیز) خلاصه دست آورد ها** | ❖ د تېر کال په جریان کې (۱۷۷۹۶۰۳) ولس لکه، نهه اویا زره، شپږسوه او درې تنه افغان مهاجرین له ایران، پاکستان او یوشمېر نورو هیوادونو څخه و خپل هیواد ته راستانه شوي دي.<br>❖ د تېر کال په جریان کې کابو (۷۸۸۸۲۱) بې ځایه شویو او راستنو شویو کورنیو سره د همکارو موسسو په همغږۍ د نغدي، خوراکي، غیر خوراکي او په نورو مختلفو برخو کې مرستې شوې دي.<br>❖ په تیر یوه کال کې (۵۷٦٦) افغان مهاجرین، چې په پاکستان او ترکیه هیوادونو کې بندیان وو، د مهاجرینو او بهرنیو چارو وزارتونو په ګډو هڅو له بند خونو ازاد شوي.<br>❖ همدا راز له ایران هېواد څخه تر (۴۰۰۰) پورې بندیان، چې د مختلفو جرمونو له امله نیول شوي وو، افغانستان ته را انتقال شوي دي او د نورو د خلاصون او انتقال لپاره هم هڅې رواني دي.<br>❖ (٦۰۰) تنه مهاجرین له پاکستان، ایران او نورو هېوادونو څخه د حج مبارکې فریضې ادا کولو په موخه سعودي عربستان ته لیږدول شوي.<br>❖ ( ۹٦۲۹۳ ) کورنۍ راستانه شوي مهاجرین د خوراکي او غیر خوراکي توکو د مرستو د تر لاسه کولو وروسته خپلو سیمو ته د اسلامي امارت په بودیجه باندې په مصونه توګه لیږدول شوي دي.<br>❖ د ترکیې او نورو اروپایي هیوادونو څخه د جبري راستنېدونکو مهاجرینو لپاره د کابل په هوایي ډګر کې د بنه راغلاست مرکز جوړ ل. |

| | |
|---|---|
| | ❖ د چین هیواد له لوري(۴۰) میلیونه چیناني پیسو(ین) مرسته کول.<br>❖ د راستنېدونکو مهاجرینو ستونزو ته د رسیدنې عالي کمیسیون رامنځته کول.<br>❖ راستنېدونکو ته د زده کړو زمینه برابرول.<br>❖ په تیر یوه کال کې له (۷۰۱۵۲۵) داخلي بې ځایه شـوو کسـانو سره بیړنۍ بشـ مرسـتې شـوي، (۱۷٦٦۷) فامیلونه خپلو سـیمو ته انتقال او سـتانه شـو (۲٦۴٦۷٦) کسانو سره د روغتیا په برخه کې مرستې شوي.<br>❖ شاوخوا (۳۵۰۰۰) کسانو ته د همکارو موسساتو په همکارۍ په مختلفو برخو کې حرفوي زدکړې ورکړل شوې، او کاري فرصتونه ورته برابر شوي.<br>❖ د وروسـتیو سـیلابونو او طبیعي پېښـو له امله کابو ۳۵ رزه ۳۲۵ کورنۍ بې شوې، چې لومړني خدمات ورته مهیا شوي دي.<br>❖ **د** وزارت پنځه کلنه ستراتیژي نهایي شوې او د وزارت رهبرۍ ته له وړاندې کولو وروسته د ریاست الوزرا عالي مقام ته لیږلو ته چمتو شوې.<br>❖ د داخلي بې ځایه شوو د ملي پالیسۍ، د مسلکي کادرونو د راستنېدنې ملي پالیسي، او د راستنېدونکو ټولیزه پالیسیو بیا کتنه شوې. |
| **د لاسته راوړنو تفصیل**<br>**تفصیل دست آورد ها** | **بسم الله الرحمن الرحیم**<br>**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**<br>د افغانستان اسلامي امارت درنو مشرانو، د رسنیو مرکز مسولینو، د رسنیو درنو استازو او ټولو درنو هېوادوالو!<br>د افغانستان د اسلامي امارت د ریاست الوزرا محترم مقام د پریکړې له مخې نن یکشنبه ۲۱ م د اسد میاشتې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت وار دی، چې د رسنیو له لارې خپل فعالیتونه او لاسته راوړنې له خپلو درنو هېوادوالو سره شریکې کړي.<br>د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د (۱۹) مرکزي ریاستونو او مستقلو امریتونو سربېره د هیواد په (۳۴) ولایتونو کې (۳۴) ریاستونه او مستقل امریتونه لري او همدا ډول په ایران، پاکستان، ترکیه او یونان هیوادونو کې د مهاجرینو اتشې لري، چې یو شمېر یې فعالې دي او د نورو د فعالولو هڅې هم روانې دي<br>دغه وزارت د افغانستان اسلامي امارت د یوه فعالې او مهمې ادارې په توګه، چې د افغان مهاجرینو او بې ځایه شویو کورنیو یو لوی شمېر کتله په بر کې نیسي، مسوولیت ورتر غاړې دی، چې دغه ټول د تېرو څلویښتو کلونو ناامنیو او د تېرو نظامونو د بې عدالتیو میراث ورته پاتې دی. |

د یادونې وړ ده، چې مونږ اوس مهال په نورو هېوادونو کې (۷ ملیونه) مهاجرین او په هېواد کې دننه د (۳) ملیونو په حدودو کې داخلي بې ځایه شوي لرو.

د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت د خپل منظور شوي پلان له مخې لاندې فعالیتونه اجرا کړي، چې د خپل درونډ ملت د ډاډ او اطمینان په خاطر یې له تاسو سره شریکوو.

**په تېر کال کې ددغه وزارت فعالیتونه او لاسته راوړنې:**

- ❖ د مهاجرینو راستنېدنه او بېرته راتګ یو له هغو مهمو موضوعاتو څخه دی، چې د افغانستان اسلامي امارت په کاري لومړیتوبونو کې راځي. د مهاجرینو چارو وزارت د یوې مسوولې ادارې په توګه کوښښ کوي، چې افغان مهاجرین په خپله خوښه او ابرومندانه ډول بېرته خپل هیواد ته راستانه کړي. له نیکه مرغه د تېر کال په جریان کې (۱۷۷۹۶۰۳) ولس لکه، نهه اویا زره، شپږسوه او درې تنه افغان مهاجرین له ایران، پاکستان او یوشمېر نورو هیوادونو څخه و خپل هیواد ته راستانه شوي دي.
- ❖ همدا ډول د شته ارقامو په اساس د تېر کال په جریان کې کابو (۷۸۸۸۲۱) بې ځایه شویو او راستنو شویو کورنیو سره د همکارو موسسو په همغږۍ د نغدي، خوراکي، غیر خوراکي او په نورو مختلفو برخو کې مرستې شوې دي. د دوی د ښه چوپړتیاو په موخه په ننګرهار، نیمرزو، کندهار، هرات ولایتونو کې د هرکلي مرکزونه فعالیت کوي او په دې وروستیو کې د کابل نړیوال هوایي کې هم د ښه راغلاست مرکز جوړ او د هوا له لارې راتلونکو مهاجرینو ته چوپړتیاوې وړاندې کوي.

**د مهاجرینو وضیعت ته د لاسرسي په برخه کې:**

- ❖ که څه هم د افغانستان اسلامي امارت له حاکمیت سره سم ډېرې افغانان هېواد ته رستانه شوي، خو اوس هم تر ۷ میلیونه پورې افغانان په ګاونډیو او نورو مختلفو هېوادونو کې د مهاجرت ژوند کوي
- ❖ د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت ددغه افغانانو ستونزو ته د رسیدګۍ په موخه د کوربه هېوادونو له چارواکو سره وخت په وخت ناستې کړي، هیاتونه یې لیږلي، د دوی ستونزې یې له نږدې لیدلي او اورېدلي او د حل په موخه یې له ټولو اړوندو مراجعو سره شریکې کړې دي، په همدې موخه پاکستان، ایران او ترکیې هېوادونو ته سفرونه شوي او وخت پر وخت دلته هم د کوربه هېوادونو له چارواکو او ډیپلوماتانو سره ناستې تر سره شوې او د مهاجرینو د ستونزو د حل او جبري ایستلو د مخنیوي په اړه خبرې اترې ور سره شوې دي.
- ❖ په تیر یوه کال کې (۵۷٦٦) افغان مهاجرین، چې په پاکستان او ترکیه هیوادونو کې بندیان وو، د مهاجرینو او بهرنیو چارو وزارتونو په ګډو هڅو له بند خونو ازاد شوي او هیواد ته له راستنېدو سم د بیړنیو مرستو ترلاسه کولو وروسته خپلو سیمو ته لیږدول شوي، همدا راز له ایران هېواد څخه تر (۴۰۰۰) پورې

بندیان، چې د مختلفو جرمونو له امله نیول شوي وو، افغانستان ته را انتقال شوي دي او د نورو د خلاصون او انتقال لپاره هم هڅې روانې دي.

- ❖ همدا راز په پاکستان او ایران کې میشت مهاجرین، چې په تیر کې د حج د مبارکې فریضې له ادا کولو محروم وو، اوس د مهاجرینو چارو وزارت په هڅو هغوی ته هرکال ځانګړې کوټه په نظر کې نیول کېږي، چې د تیر په څېر سږکال هم (٦٠٠) تنه مهاجرین له پاکستان، ایران او نورو هېوادونو څخه د حج مبارکې فریضې ادا کولو په موخه سعودي عربستان ته لیږدول شوي

**د راستنېدونکو وضیعت ته د لاسرسي په برخه کې :**

- ❖ دا چې د اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې امن ټینګ شوی، د ژوند او کار لپاره زمینه مساعده ده، نو د مهاجرینو راستنول د افغانستان اسلامي امارت لپاره یو له مهمو کاري لومړیتوبونو څخه دي، د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د خپل وظیفوي مسؤولیت په توګه هڅه کوي، افغان مهاجرینو ته زمینه برابره کړي، ترڅو په خپله خوښه او عزت سره هېواد ته راستانه شي، چې له نېکه مرغه د تېر کال په جریان کې (۱۷۷۹۶۰۳) تنه افغان مهاجرین له ایران، پاکستان او یو شمېر نورو هیوادونو څخه و خپل هیواد ته راستانه شوي دي. ددغو راستنو شویو مهاحرینو د تشخیص او تثبیت لپاره د ARIS په نوم یو جامع ډیټابس جوړ شوی، چې د ټولو راستنو شویو مهاجرینو معلومات پکې ثبت شوي؛ تر څو د اړتیا پر مهال ترې استفاده وشي.
- ❖ د راستنېدونکو مهاجرینو لپاره په موقتو کمپونو کې د ژوند ټولې اسانتیاوې، لکه ګرځندویه کلینیکونه، مسجدونه، وړیا سیمکارتونه، خواړه، د ځښاک اوبه او د ژوند لومړني ضروریات مهیا شوي دي.
- ❖ ( ۹۶۲۹۳ ) کورنۍ راستانه شوي مهاجرین د خوراکي او غیر خوراکي توکو د مرستو د تر لاسه کولو وروسته خپلو سیمو ته د اسلامي امارت په بودیجه باندې په مصونه توګه لیږدول شوي دي، هر فامیل ته لس زره افغانۍ ورکړل شوې، چې مجموعي (۵۳۴۶۷۸۰۰۰) پنځه سوه او څلور دیرش میلیونه اوه شپیته لکه او اته زره افغانۍ کېږي،او دا لړۍ تر اوسه هم جریان لري.
- ❖ د ترکیې او نورو اروپایي هیوادونو څخه د جبري راستنېدونکو مهاجرینو لپاره د کابل په هوایي ډګر کې د ښه راغلاست مرکز جوړ او فعالیت یې پیل کړی، چې تر دې دمه (۱۳۳۷۴) کسان او ۵۲ کورنۍ راستنې شوې، چې د همکارو موسساتو په ملاتړ له هر نفر سره ۱۵۰ یورو نغدي مرسته شوې ده.
- ❖ همدا ډول د شته ارقامو په اساس د تېر کال په جریان کې کابو (۷۸۸۸۲۱) بې ځایه شویو او راستنو شویو کورنیو سره د همکارو موسسو په همغږۍ د نغدي، خوراکي، غیر خوراکي او په نورو مختلفو برخو کې مرستې شوې دي.
- ❖ د مهاجرینو وزارت په هڅو، د چین هیواد لخوا د راستنو شویو مهاجرینو او داخلي بې ځایه شویو سره سل میلیونه ین (چینایي پیسې) مرسته اعلان شوه، چې د هغې له جملې څخه د ۴۰ میلیونه ین په ارزښت مرستې را رسېدلې دي او نورې به هم په نږدې وخت کې را ورسیږي.

- د مهاجرینو چارو وزارت په وړاندیز او د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله د حکم له مخې د راستنېدونکو مهاجرینو ستونزو ته د رسیدنې یو عالي کمیسیون رامنځته شو او ټول شته امکانات او بشري قوه یې په لاس کې ورکړه، چې دغه کمیسیون اوس هم د مهاجرینو چارو وزارت سره اوږه په اوږه، شپه او ورځ راستنېدونکو مهاجرینو ته خدمات وړاندې کوي
- راستنېدونکو مهاجرینو ته د لاچټکو خدماتو وړاندې کولو په موخه د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست الحاج خلیل الرحمن حقاني ټولو سرحدي او هغه ولایتونو ته چې مهاجرین ورته زیات راستانه شوي و، لکه: ننګرهار، لغمان، پکتیا، کندهار، زابل، نیمروز او هرات ولایتونو ته وخت په وخت سفرونه کړي، د لنډمهاله کمپونو او ټولو کمپټو چارې یې ارزولي او د کارونو د چټکتیا او خالیګاو پوره کولو په اړه یې اړوندو مسولینو ته سپارښتنې کړې دي، په یادو ولایتونو کې له علماو، تجارانو، مخورو، قومي مشرانو او د ټولو قشرونو له نماینده ګانو سره هم ناستې شوې او راستنېدونکو مهاجرینو لپاره په هره برخه کې د همکاریو غوښتنه ترې شوې ده، چې د قومي مشرانو لخوا یاده غوښتنه په ډېره ښه توګه استقبال شوې او ډېرو قومونو په ډلییزه توګه د مهاجرینو لپاره د خوراکي او غیر خوراکي  توکو مرستې سرحدي سیمو ته رسولې، ځینو خپل کورونه ورته خالي کړل او چا د خپلو کورنو سامانونه ورسره نیم کړل
- په ورته مهال د مهاجرینو چارو سرپرست، ددې لپاره، چې د مهاجرینو د اولادونو زدکړې نیمګړې پاتې نشي، په یو شمېر ولایتونو کې د خصوصي پوهنتونو له مشرانو سره هم ناستې کړې، د همکارۍ تړونونه یې ورسره لاسلیک کړي او د طب، کمپیوټر ساینس، انجنیري، اقتصاد، قضا او څارنوالي، حقوق، سیاسي علوم، ټولنیز علوم، ژبو او ادبیاتو او یو شمېر نورو څانګو کې د زدکړو زمینه برابره کړې

**راستنو شوو مهاجرینو او داخلي بې ځایه شوو ته د لاسرسي په برخه کې:**

- په تیر یوه کال کې له (۷۰۱۵۲۵) داخلي بې ځایه شوو کسانو سره بیړنۍ بشري مرستې شوي، (۱۷٦٦۷) فامیلونه خپلو سیمو ته انتقال او ستانه شوي او (۲٦۴٦۷٦) کسانو سره د روغتیا په برخه کې مرستې شوي.
- شاوخوا (۳۵۰۰۰) کسانو ته د همکارو موسساتو په همکارۍ په مختلفو برخو کې حرفوي زدکړې ورکړل شوې، او کاري فرصتونه ورته برابر شوي، همدا راز زرګونه کسان د زدکړو د بشپړولو ّپه موخه د پوهنې او لوړو زدکړو وزارتونو ته ورپیژندل شوي دي.
- د وروستیو سیلابونو او طبیعي پېښو له امله کابو ۳۵ زره ۳۲۵ کورنۍ بې ځایه شوې، چې لومړني خدمات ورته مهیا شوي دي.
- همدا ډول د ذیدخلو ادارو په همکارۍ د کاري فرصتونو لپاره یوه کمیټه تشکیل شوې ده، چې تر دې دمه یې شا وخوا ۴۵ زره کسان د خپلو دندو، مهارتونو او نورو مشخصاتو په تفکیک سره ثبت کړي.

| | |
|---|---|
| ❖ د راستنېدونکو تجارانو او صنعتکارانو د کارونو د ودې لپاره ښه امکانات او فرصتونه په اختیار کې ورکړل شوي دي.<br>❖ د (۱۲٦۵) کسانو حقوقي غوښتنو ته رسیدگي شوې.<br>**په ښارګوټو او هغه ساحو کې چې د راستنېدنې کچه پکې لوړه ده، ټولنیز خدمات :**<br>❖ موږ په ۲۹ ولایتونو کې د مهاجرینو لپاره ۴٦ ښار ګوټي لرو، چې په تېر یوه کال کې ۱۳ ښار ګوټي د مهاجرینو د دایمي مېشتېدنې لپاره تصفیه شوي او د ژوند اساسي خدمتونه یې په نظر کې نیول شوي دي.<br>❖ د مهاجرینو په ښارګوټو کې د همکارو موسساتو په همکارۍ د لومړنیو اسانتیاو په برخه کې په مختلفو ولایتونو کې ۱۱ بابه ښوونځي، شپږ بابه کلینیکونه، ٦ بابه ګرین هاوسونه( شنې خونې) د اوبو رسونې شبکې، کانالونه، د اوبو څاګانې او نورې اسانتیاوې رامنځته شوي<br>**د هوکړه لیکونو له لارې د بې ځایه شویو او راستنېدونکو وضعیت ته رسیدنه:**<br>❖ د مهاجرینو وزارت د بې ځایه شویو او راستنېدونکو وضعیت ته د ښه لاس رسي په موخه او هغوی ته د مرستو د جلب لپاره د موسساتو سره لازمه هماهنګي رامنځته کړې، په تېر یوه کال کې له (۹۳) موسساتو سره هوکړه لیکونه امضا شوي دي، چې د دغو هوکړه لیکونو له مخې د سرپنا، حرفوي زده کړو، ښوونځیو، د خوراکي او غیر خوراکي موادو ویش او نورو زیربناوي برخو کې څه باندې ۷ میلیونو ډالر په مصرف رسیدلي دي.<br>❖ د مهاجرینو ستونزو ته د رسیدنې په موخه له ۷ ادارو او همدا ډول د ۱۴ تعلیمي نهادونو سره هوکړه لیکونه لاسلیک شوي دي.<br>**په ولایتونو کې د بې ځایه شویو او راستنو شوو د وضعیت پلټنه:**<br>❖ د بې ځایه شویو او راستنېدونکو همدا ډول د اړمنو هیوادوالو د وضعیت د پلټنې په موخه ددې وزارت لوړ رتبه چارواکو د مهاجرینو وزارت د وزیر په شمول یو شمېر ولایتونو په ځانګړې ډول کندهار، هرات، فراه، نیمروز، ننګرهار، لغمان پکتیا او خوست ولایتونو ته مسلسل ته کاري سفرونه کړي دي، او د مهاجرینو ریاستونه یې تر بررسۍ لاندې ونیول. او د ننګرهار ولایت، تورخم، د کندهارولایت، سپین بولدک، د هرات ولایت اسلام قلعه او د نیمروز ولایت د وریښمو پل سیمه کې یې د راستنېدونکو لپاره خدمات بررسي کړل او سرحدي امریتونو ته یې د لانورو لازمو چوپړتیاوو هدایات ورکړل.<br>**د تقنیني اسنادو او پالیسۍ په برخه کې:**<br>❖ د وزارت پنځه کلنه ستراتیژي نهایي شوې او د وزارت رهبرۍ ته له وړاندې کولو وروسته د ریاست الوزرا عالي مقام ته لیږلو ته چمتو شوې.<br>❖ د داخلي بې ځایه شوو د ملي پالیسۍ، د مسلکي کادرونو د راستنېدنې ملي پالیسي، او د راستنېدونکو ټولیزه پالیسیو بیا کتنه شوې.<br>**د دعوت و ارشاد په برخه کې:**<br>❖ د دعوت او امر بالمعروف له چارو روزمره څارنه،د ټاکل شوي نصاب په ښه ډول تدریس، د اسلامي ارزښتونو او ملي فرهنګ ساتنه او نظارت او په دواړو ملي ژبو | |

| | |
|---|---|
| د دیني، عقیدوي او اخلاقي چارو ترغیب او همدا راز د سیرت زدکړې په موخه د سیرت سیالی په لار اچول شوي. | |
| **راتلونکي پلانونه:**<br>✓ د راستنېدونکو او بې ځایه شویو او مهاجرینو څخه ملاتړ او د هغوی ژوند او پرمحتگونو ته ارتقا ورکول.<br>✓ د خپلې خوښې راستنېدنې پروسه تقویه کول او د پایدارې بیا میشته کیدنې لپاره زمینه سازي.<br>✓ د منظمو مهاجرتونو رامنځته کول.<br>✓ د هیواد په اقتصاد کې د مهاجرینو د نقش پیاوړتیا.<br>✓ د ادارې او مدیریت د پیاوړتیا په موخه د ظرفیتونو رامنځته کول او کاري فرصتونه برابرول.<br>✓ ښه حکومت ولي، ځواب وینه او شفافیت رامنځته کول.<br>✓ په سیمه او نړۍ کې د افغان مهاجرینو د چوپړتیا په موخه د اتشو فعالول.<br>✓ د په بهر کې مسلکي کادرونه؛ هیواد ته د راتسنېدو لپاره هڅول.<br>✓ د مهاجرینو په ښارگوټو کې اساسي خدمات او د هغوی لومړنۍ ستونزې په بنیادي ډول حلول.<br>✓ د راستنېدونکو، مهاجرینو او داخلي بې ځایه شویو حقوقي ملاتړ او د کارکوونکو ظرفیت لوړونه. | **راتلونکي پلانونه**<br>**پلان های آینده** |